# د لویو ډبرو لرونکو ځایونو کې د کب نیولو پر مهال خوندي اوسئ

## څنګه کولو شو له لویو ډبرو څخه خوندي کب نیونه وکړو

د لویو ډبرو لرونکو ساحو څخه کبان نیول او راټولول د کب نیولو او د بهر ساحو څخه د خوند اخیستلو عالي لارې دي مګر خطرناکه کیدی هم شي.

له لویو ډبرو څخه د کب نیولو یا راټولولو پرمهال د خوندي پاتې کیدو لپاره 4 ساده لارې شتون لري:

1. له تلو څخه دمخه چمتووالی ونیسئ
2. رسیدو سره سم ساحه وګورئ
3. د کب نیولو پرمهال محتاط اوسئ او
4. تل ژغورونکی جاکټ واغوندئ.

## د ډوبیدو لوړ خطر لرونکې ساحې؟

ډیری خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی ځکه چې دوی په ویکټوریا کې په ډبرو لرونکو ساحو کې د کب نیولو یا راټولو پر مهال اوبو ته غورځیدلي.

د کب نیولو له امله د لا نورو مړینو مخنیوي کې د مرستې لپاره، هرهغه څوک چې د لوړ خطر په ټاکل شوو زونونو (ساحو) کې کبان نیسي **باید** لایف جاکټ واغوندي.

د لوړ خطر ساحې په سرف کوسټ، د مارنینګټن ټاپو، فیلیپ ټاپو، باس کوسټ او کیپ برج واټر کې موندلی شي.

په هرصورت، که تاسو د لویو ډبرو لرونکي کومې ساحه کې یاست، نو که تاسو کبان هم نه نیسئ، VFA تاسو هڅوي چې یو لایف جاکټ واغوندئ.

## نور معلومات

د لوړ خطر ساحو او په لویو ډبرو لرونکو ساحو کې د کبانو نیولو پرمهال خوندي پاتې کیدو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، په ژبو کې د معلوماتو په شمول، مهرباني وکړئ د VFA له ویب پاڼې څخه په: vfa.vic.gov.au/rockfishing لیدنه وکړئ یا ښي لور ته QR کوډ سکین کړئ.

## زه کوم ډول لایف جاکټ ته اړتیا لرم؟

ستاسو لایف جاکټ باید د آسټرالیایي معیار (AS 4758) سره مطابقت ولري او باید وي:

- د 50S په کچه/اندازه یا ورڅخه لوی لایف جاکټ
- ستاسو په سمه اندازه
- په ښه توګه کار کونکی - ډاډ ترلاسه کړئ چې د تړلو کلپونه یې کار کوي او پټی یې خوړل شوي نه وي
- په سمه توګه اغوستل شوی وي چې ټول زیپونه، د تړلو کلپونه او پټۍ یې په سمه توګه خوندي شوي وي
- په منظمه توګه سروس شوی.

هغه لایف جاکټونه چې یوازې د پرسیدلو خوله لرلو باندې تکیه کوي نشي کارول کیدی.

## د ځوانانو لپاره مناسب لایف جاکټونه

| 100 کچه (1 ډول) | 50 کچه (2 ډول) | 50S کچه (3 ډول) |
|---|---|---|
|  |  |  |

## ایا ماشومان لایف جاکټ ته اړتیا لري؟

هو، ستاسو تر څارنې لاندې هر ماشوم باید لایف جاکټ واغوندي حتی که دوی کبان هم نه نیسي. د ماشومانو لایف جاکټونه باید:

- د آسټرالیایي معیار سره مطابقت (AS 4758) ولري او
- د 100 کچې لایف جاکټ یا ورڅخه لوی وي.

## د ماشومانو لپاره مناسب لایف جاکټونه

**100 کچه (1 ډول یا لوی)**



